محمدسیمع صادق ۲۰۲۶/۰۵/۰۲

# ژوندی نوم

## (قصه په سلوټکو کي)

کور ته راغی چي د اتم زوی د زوکړي مبارکي راکړي.

د خبرو په منځ کي وویل:

«کاکا، لکه چي ماشومان مو ډېر خوښ دي، ځکه مو دومره زامن دي.»

ما جواب ورکړ:

«نه، غواړم له مرګ وروسته مي نوم ژوندی پاته سي.»

هغه وویل:

«ستر مفکران لکه لاک، اکواینس، سپینوزا او افلاطون واده نه وو کړی، هغوی خپل عمر د کایناتو او ژوند د معماوو په حل کي تېر کړ. نومونه ئي په نړی کي لا هم سته.»

اعصاب مي ورته خراب سوه، ما ول:

«له نومونو کافران ښکاري، د کافرانو همدا دنیا ده، زموږ دا بله، د جنت!»

محمدسیمع صادق


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ